الله تعالی له حلول او اتحاد څخه پاک دی ........................................................ ۳۱۰
اوومه عقیده ........................................................ ۳۱۲
د بندګانو افعال د الله تعالی مخلوقات دي ........................................................ ۳۱۲
اتمه عقیده ........................................................ ۳۱٤
پر الله تعالی باندې د مخلوقاتو په اړه هېڅ شی لازم نه دی ........................................................ ۳۱٤
نهمه عقیده ........................................................ ۳۱٤
د مرګ او ژوند مالکیت ........................................................ ۳۱٤
لسمه عقیده ........................................................ ۳۱٦
قضا او قدر حق دي ........................................................ ۳۱٦
یوولسمه عقیده ........................................................ ۳۱۹
د الله تعالی د خالقیت، د مخلوقاتو صفتونه او د کایناتو د څرنګوالي په اړه ........................................................ ۳۱۹
دوولسمه عقیده ........................................................ ۳۲۱
د الله تعالی نومونه او صفتونه ........................................................ ۳۲۱
د اسماء الحُسنی (د الله تعالی د پاکو نومونو) تفصیل ........................................................ ۳۲۲
هغه عقاید چې د ملایکو په هکله دي ........................................................ ۳۳۳
لومړۍ عقیده ........................................................ ۳۳۳
ملایکې د الله بزرګې او معصومې بندګانې دي ........................................................ ۳۳۳
دویمه عقیده ........................................................ ۳۳۳
ملایکې د الله ﷻ سفیرانې دي ........................................................ ۳۳۳
درېیمه عقیده ........................................................ ۳۳٤
د ملایکو ډولونه او د هغو دندې ........................................................ ۳۳٤
څلورمه عقیده ........................................................ ۳۳٤
د کرام الکاتبینو شتون حق دی ........................................................ ۳۳٤
د پېریانو وجود په قرآن و حدیث سره ثابت دی ........................................................ ۳۳۵

پينځمه عقيده ........................................................................ ۳۳۶
هغه عقايد چې د انبياى كرامو ﷺ په هكله دي ........................................... ۳۳۷
لومړۍ عقيده ........................................................................... ۳۳۷
د نبي، رسول او د وحيو تعريف ............................................................ ۳۳۷
د انبياى كرامو ﷺ او رسولانو شمېر ...................................................... ۳۳۸
دويمه عقيده ............................................................................ ۳۳۹
نبوت خدايي وركړه او وهبي منصب دى ..................................................... ۳۳۹
په زيار او كوشش لاس ته نه راځي .......................................................... ۳۳۹
درېيمه عقيده ........................................................................... ۳۳۹
انبياى كرام ﷺ له هر ډول صغيره او كبيره گناهونو څخه پاک دي ........................... ۳۳۹
څلورمه عقيده ........................................................................... ۳٤٠
له انبياى كرامو ﷺ څخه د احكامو په تبليغ كې نسيان او غلطي ناشوني ده .................. ۳٤٠
پينځمه عقيده ........................................................................... ۳٤٠
تر ټولو لومړى نبي حضرت آدم ؑ او تر ټولو وروستى نبي حضرت محمد ﷺ دى ............... ۳٤٠
شپږمه عقيده ............................................................................ ۳٤١
د انبياى كرامو ﷺ معجزې حق دي او دا معجزې د نبوت او رسالت دلايل دي .................. ۳٤١
د معجزاتو د منكرينو ځواب ................................................................ ۳٤٥
كوم خلک چې معجزې ناشونې او محالې بولي او وايي، چې د معجزې شتون د فطرت د قانون خلاف دي ........................................................................ ۳٤٥
په قرآن كريم كې د يادو شويو معجزو عقلي امكان او ثبوت ................................. ۳٤٥
اوومه عقيده ............................................................................ ۳٤٨
د نبي ﷺ د رسالت ثابتوالى او د هغه دلايل .............................................. ۳٤٨
د محمدي ﷺ نبوت او رسالت دلايل ...................................................... ۳٤٨
د لمر د درېدو او بېرته راگرځېدو معجزه ................................................... ۳٥٢
اتمه عقيده ............................................................................. ۳٥٣
رسول اكرم ﷺ خاتم النبيين دى ............................................................ ۳٥٣
نهمه عقيده ............................................................................. ۳٥٤
د نبي ﷺ رسالت ټولو انسانانو او پېريانو ته دى ............................................ ۳٥٤
لسمه عقيده ............................................................................. ۳٥٤
نبي ﷺ تر ټولو انبياوو ﷺ افضل دى ....................................................... ۳٥٤
د نبي ﷺ بهتروالى او سرداري ............................................................ ۳٥٤

أوَّلُ ما خلقَ اللهُ نُورِي ........................................ ۳۵۵
د حضور ﷺ د بعثت عمومیت ........................................ ۳۵۵
حضور ﷺ خاتم النبيين دی ........................................ ۳۵۵
د حضور ﷺ د نبوت مُهر ........................................ ۳۵۵
د حضور ﷺ د شفاعت غوښتنه ........................................ ۳۵۵
**يوولسمه عقيده ........................................ ۳۵۶**
قرآن کريم د الله تعالی کلام دی ........................................ ۳۵۶
د انبیای کرامو علیهم السلام د رالېږلو مقصد او غرض ........................................ ۳۵۷
**د آخرت اړوند عقايد ........................................ ۳۵۸**
له جسم پرته په انسان کې يو روح دی ........................................ ۳۵۹
د روح حقیقت ........................................ ۳۶۰
د آخرت اثبات ........................................ ۳۶۱
د جسماني معاد په هکله د امام رازي رحمه الله تحقيق ........................................ ۳۶۳
**لومړۍ عقیده ........................................ ۳۶۶**
د هر سړي اجل مقرر او اندازه شوی دی ........................................ ۳۶۶
**دويمه عقيده ........................................ ۳۶۶**
ملک الموت (د مرگ ملايکه) حق دی ........................................ ۳۶۶
**درېيمه عقيده ........................................ ۳۶۷**
د قبر عذاب، ثواب او د منکر او نکير سوال حق دی ........................................ ۳۶۷
نَکِير او مُنْکَر ........................................ ۳۶۸
**څلورمه عقيده ........................................ ۳۷۱**
د قيامت ورځ حق ده ........................................ ۳۷۱
**پينځمه عقيده ........................................ ۳۷۳**
جسماني معاد حق دی ........................................ ۳۷۳
د تناسخ ابطال ........................................ ۳۷۵
**شپږمه عقيده ........................................ ۳۷۷**
حساب، کتاب او د اعمالو د تللو لپاره ترازو حق ده ........................................ ۳۷۷
**اوومه عقيده ........................................ ۳۷۹**
پل صراط حق دی ........................................ ۳۷۹
**اتمه عقيده ........................................ ۳۸۰**

د مؤمنانو لپاره د جنت ثواب او د کافرانو لپاره د دوزخ عذاب تل پاتې دی ........................ ۳۸۰
**نهمه عقیده ........................................................................................................ ۳۸۳**
اعراف حق دی ........................................................................................................ ۳۸۳
**لسمه عقیده ........................................................................................................ ۳۸۳**
حوض کوثر حق دی ........................................................................................................ ۳۸۳
**یوولسمه عقیده ........................................................................................................ ۳۸۳**
د قیامت په ورځ د نبیانو عليهم السلام شفاعت حق دی ........................................................................................................ ۳۸۳
**دوولسمه عقیده ........................................................................................................ ۳۸۵**
په جنت کې د مؤمنانو لپاره د الله تعالی دیدار حق دی ........................................................................................................ ۳۸۵
**هغه عقاید چې د قیامت د نښو په هکله دي ........................................................................................................ ۳۸۶**
د یاجوج او ماجوج راوتل، د ذو القرنین بند او د دابة الارض په هکله د ساینس‌پوهانو پوښتنې او د هغو ځوابونه ........................................................................................................ ۳۸۶
**د صحابه کرامو رضي الله عنهم اړوند عقاید ........................................................................................................ ۳۹۱**
۱.د صحابه کرامو رضي الله عنهم رتبه ........................................................................................................ ۳۹۱
۲.د رسول الله عليه السلام له پاکو ازواجو او اهل بیتو سره محبت او د هغوی احترام ........................................................................................................ ۳۹۲
۳.د راشده خلافت ترتیب ........................................................................................................ ۳۹۲
٤.د صحابه کرامو مشاجرات (اختلافات) ........................................................................................................ ۳۹٤
۵.د جمل او صفین جنګونو په هکله د اهل سنت والجماعت مسلک ........................................................................................................ ۳۹٦
ایمان او اسلام ........................................................................................................ ۳۹۸
د ایمان شرط ........................................................................................................ ۳۹۸
د کفر تعریف ........................................................................................................ ۳۹۹
د کفر مرتبې ........................................................................................................ ۳۹۹
د اسلامي ورورولئ په هکله عقاید ........................................................................................................ ٤۰۰
د یوه قوم‌والي فتنه ........................................................................................................ ٤۰۱
عقیده ........................................................................................................ ٤۰۲
عقیده ........................................................................................................ ٤۰۳
د اسلام د کلیمې لا اِله اِلَّا اللهُ مُحمَّدُ رَسُولُ الله لنډه تشریح ........................................................................................................ ٤۰۳
لا اِله اِلَّا اللهُ ........................................................................................................ ٤۰۳
د الله د لفظ معنا ........................................................................................................ ٤۰٤
محمد رسول الله ........................................................................................................ ٤۰٦

طاعت او معصیت........................................................................................٤٠٦
صغیره او کبیره گناهونه...............................................................................٤٠٦
علمای کرامو ته نصیحت ............................................................................. ٤٠٨
عقیده ....................................................................................................... ٤٠٨
عقیده ....................................................................................................... ٤٠٩

# د مرکز نظر

موږ د ارتباطاتو په زمانه کې ژوند کوو او ترجمه د ارتباط او مفاهمې یوه مهمـه وسـیله او طریقه ده. همدارنگه د دې وسیلې او طریقې په مرسته د علومو او فنونو زېرمو او سرچینـو ته لاره پیدا کوو او معرفت حاصلوو. څرنگه چې د ژباړې فن د بشـري ټولنو له جوړېـدا سره سم پیل شوی او د دوی له غوښتنو سره په تړاو یې انکشاف کړی، نو دې ټکي ته په پام، پـه هېواد کې د اسلامي امارت تر قیام وروسته د علومو اکاډمۍ په چوکاټ کـې د ژبـاړې مرکـز ایجاد شو. هدف یې دا دی، چې د هېوادوالو علمي، فرهنگي او تخنیکي اړتیاوو ته پـه کتـو د علومو، فنونو او ټکنـالوژۍ د بېلابېلـو ډگرونـو اړونـد اړیـن او زبـده آثـار د هېـواد مـلي او رسمي ژبو ته راواړوي او خپاره یې کړي.

د علومو او فنونو وده او پرمختیا د پوهې په راخپلولو کې د بشـر د پرلهپسـې هلـو ځلـو او تجربو نتیجه ده، چې د نړۍ تر ټولو غوره علمي او فرهنگي میـراث بلـل کېـږي او د نـړۍ فرد فرد ته په کار دي، چې پکې ونډه ولري. د دغې ونډې د جوتونې یوه نېغـه او آسـانه لار د نورو له تجربو څخه استفاضه او استفاده ده. د ژبـاړې مرکـز غـواړي، چـې لـه دغـې لارې څخه په گټه د دغو او دې ته ورته نورو علمي او فني آثارو د ژبـاړې او خپـراوي پـر مـټ د خپل دین، وطن او ثقافـت د ودې او پرمختیـا پـه هڅـه او هانـد کـې خپلـه مـلي او اسـلامي فریضه ادا کړي.

د ژبـاړې مرکـز ویـاړي، چـې د ایجـاد لـه وختـه یـې تـر اوسـه پـه لسـگونو علمـي او تخصصـي آثار د هېواد ملي او رسمي ژبو تـه را اړولي او خپـاره کـړي دي او دا دی، د دې علمي او تخصصـي اثر ژباړې او خپراوي سره د علم او معرفـت د تعمـیم او تـرویج پـه لاره کې یو بل مهم او مستحکم گام اوچتوي. مرکز د ژباړن، مصحح او مهتمم مننه کوي، چې د دې اثر د ژباړې، تصحیح او اهتمام کار یې په پوره لېوالتیا، مینـې او اتقـان سره تـرسره کـړی دی.

د ژباړې مرکز د اسلامي، بشري او طبیعي علومو، فنونو او نورو مؤثقو معلومـاتي آثـارو د ژباړې، تصحیح، اهتمام، طباعت او اشاعت د چارو د بهبود لپاره د هېواد دننه او له هېـواده بهر د ژباړونکو مشورې او همکارۍ ته د قدر په سـترگه گـوري او ژمنـه کـوي، چـې د دوی ژباړلي آثار به خپلو وسیلو او امکاناتو ته په پام په لـوړ معیـار او کیفیـت چـاپ او خپـروي.

هیله ده، چې درانه لوستونکي د مرکز د ژباړل شوو او خپرو کړو آثارو د بډاینې او بهبـود پـه اړه خپل نظرونه، وړاندیزونه او سپارښتنې له مرکز څخه ونه سپموي.

په درنښت

د ژباړې مرکز

# د ژباړن خبرې

د عقاید الاسلام په نوم دا کتاب، چې په اُردو ژبه لیکل شوی و او دا دی اوس یې پښتو ژباړه ستاسو په وړاندې ده. دا کتاب په خپله نوعه او د اسلامي عقیدې په برخه کې تر ټولو مستند، مفصل او دې موضوع ته له ټولو ابعادو د کتنې له نظره یو علمي کتاب دی، چې د اهل سنت والجماعت عقیده او د نورو ډلو عقاید پهکې بیان شوي او په دې برخه کې ټولو پوښتنو ته په مفصله توګه د قرآن او احادیثو په استناد ځوابونه ویل شوي دي. دا چې د دې کتاب لیکوال د پراخې مطالعې او زیاتې پوهې خاوند و، نو د نورو مذاهبو، ډلو او فرقو د عقایدو په مطالعه کولو سره یې د هغوی عقاید د اسلامي شریعت په رڼا کې څېړلي، تجزیه او تحلیل کړي، د بېلګو په راوړلو سره یې د هغوی د عقایدو په هکله بحثونه کړي او د کومو ډلو او فرقو عقاید یې چې د نقد او رد وړ و، په منطقي دلایلو یې رد کړي دي.

په اوسنیو شرایطو کې د دې کتاب لوستل د هر مسلمان لپاره ډېر اړین دي، ځکه په اوسني عصر کې اسلامدښمنه عناصر د مختلفو ابزارو او وسایلو په کارولو سره په دې هڅه کې دي، تر څو د مسلمانانو عقیده کمزورې کړي، پر ډلو او ټپلو یې سره ووېشي، د دوی تر منځ درزونه ایجاد کړي او د خپل ژوند له اصلي هدف څخه، چې پر واحد او لا شریک خدای ﷻ، ملایکو، آسماني کتابونو، رسولانو او د آخرت پر ورځ او تقدیر باندې ایمان دی، مسلمانانو ته شکونه او شبهات ایجاد کړي او د فاني ژوند مزو او خوندو ته یې پام راواړوي.

مسلمانانو ته اړینه ده، چې په دې عصر کې دا او دې ته ورته نور کتابونه چې د اسلامي عقیدې په هکله د بهترین منهج په توګه بلل کېږي، خپل مسلمان او مجاهد ملت ته د اسلامي عقیدې په هکله د بشپړو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د دوی لا زیاتې استفادې په خاطر ملي ژبو ته وژباړو، چاپ یې کړو او په ټول هېواد کې یې د کتاب مینهوالو ته ورسوو.

دا کتاب د افغانستان د علومو اکاډمي د ژباړې ریاست لهخوا د ژباړې لپاره انتخاب شوی و، چې تر ژباړې وروسته د افغانستان د علومو اکاډمي د یاد مرکز له کورنیو ژبو نه بهرنیو ژبو ته د انسټیټوټ آمر عبدالصمد کاتب ته د اهتمام او مقابلې لپاره ورکړل شو.

نوموړي په پوره ايمانداري او اخلاص دا کتاب ولوست او اړين اصلاحات يې پهکې راوستل. الله تعالی دې ښاغلي کاتب ته په دنيا او آخرت کې د دې مخلصانه کار بدله ورکړي او دا کتاب دې زموږ د مسلمان او مجاهد ولس د هدايت ذريعه وګرځوي.

شېر خان حساس

د افغانستان د علومو اکامي د ژباړې مرکز علمي غړی

د ۱۴۰۲ لمريز کال د وږي څلورمه

# سریزه

بسم اللّهِ الرَّحمنِ الرَّحيم

الحَمدُ للّهِ الذي هَدَانا للإسلامِ وَ أَسْبَغَ عَلَينا نِعَمَه ظاهِرةً وَ باطِنةً وَ أتَمَّ عَلَيْنا الإنْعـام وَ جَعَلَنـا مِنْ أمَّةِ حَبِيبِهِ سَيِّدِنا وَ مَوْلانا مُحَمَّدٍ سَيِّدِ الأنام عَلَيهِ وَ عَلَـى آلـِهِ وَ أصْـحَابِهِ الصَّـلوةُ وَ السَّـلام وَعَلَيْنا مَعَهُم بِتَطَفُّلِهِم بِمَحْضِ لُطْفِک وَعِنَايَتِک يا أرحَمَ الرَّاحِمين يا ذا الجَلالِ وَالإكرَام.

اللَّهمَّ لَولا أنتَ ما اهْتَدَيْنا
وَ لا تَصَدَّقْنا و لا صَلَّيْنا
فَأنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَينا
وَنَحنُ عَلى فَضْلِک ما استغنينا
إنَّ الأولَى قَد بَغَوا عَلَيْنا
وَ بِالصِّياحِ عَوَّلُوا عَلَيْنا
وَ إذا أرادوا فِتنةً أبَيْنا

اما بعد: په دې باندې باید ځانونه پوه کړو، چې الله ﷻ پـه مطلـق ډول پـر ټولـو مخلوقاتو باندې یو محسـن ذات دی. ځکـه کـه وجـود دی د هغـه بخشـش دی، کـه ژوندون او بقا ده، د هغه ډالۍ ده، که غوره انساني صفتونه دي، هم د هغه تعالی ﷻ د عام رحمت له برکته دي. آن دا چې زموږ علم، قدرت، اراده، اورېدل، لیـدل او کـلام ټول د هغه تعالی ﷻ د بې‌چونه علم، قدرت، ارادې، لیـدنې، کتنـې او کـلام یـو ادنـی غوندې عکس او څرک دی.

لـه ممکـن (مخلـوق) سره وجـود هـم خپـل نـه‌دی، غـوره صـفات انسـاني او نـور کمالات لا څه کوې، هر څه چې دي د هغه تعالی بخشش دی. له خوار مخلـوق سره له عدم (نېستۍ) څخه پرته بل هېڅ نه‌شـته او حـق خـو دا دی، چـې مخلـوق د خپـل عدم خاوند هم نه‌دی. ځکه عدم هم د وجود په څېر د الله تعـالی د ارادې او مشـیت تابع دی؛ مطلب دا چې له بنده سره چې کوم صـفت او کـمال شـته، هغـه ټـول د اللـه تعـالی د جـود و کـرم لـه برکتـه دي. د هغـه تعـالی نعمتونـه او ورکـړې بې‌حـده او بې‌نهایته دي او له شک پرتـه اللـه تعـالی پـه مطلـق ډول پـه ټولـو مخلوقـاتو رښـتینی محسن ذات دی.

اگر بر تن من زبان شود هر مویی
یک شکر وی از هزار نتوانم کرد

عقل په ښکاره ډول حکم کوي، چې د رښتيني محسن او نعمت ورکوونکي شکر واجب او احترام او تعظيم يې فرض دی، عقل د پاچا په څېر دی او د وجود نور ټول حواس، غړي او اندامونه د ده لښکرې دي، عقل وايي: «کله چې د هر محسن او نعمت ورکوونکي شکر، تعظيم او احترام لازم وي نو د دې رښتيني او تر ټولو لوی او ستر محسن او نعمت ورکوونکي (اللّٰه ﷻ) شکر او تعظيم تر ټولو لوی فرض دی، ځکه هغه تعالی موږ ته د عقل او هوښياری په څېر بې‌مثاله نعمتونه راکړي، چې په هغه باندې د دين او دنيا ستونزې حل کېږي.

عقل په هر څه باندې پوهېږي، خو د خپل ځان د حقيقت له پېژندگلوی څخه محروم دی. لېکن هرومرو دومره پوهېږي چې داسې يو سپېڅلی ذات شته، چې زما د وجود او ادراک قيضه د هغه په لاس کې ده، کوم وخت او هر څومره چې هماغه ذات وغواړي هغومره ادراک راته کېږي او که وغواړي نو بنده داسې بې‌وسه گرځوي چې پوهېدل خو پرېږده، آن شاوخوا شيان به هم ورته نه ښکارېږي. نو هماغه ذات چې زما د وجود او ادراک قيضه د هغه په لاس کې ده هماغه زما رښتينی خدای، منعم او محسن دی.

و آن که در انديشه نيايد آن خداست

عقل ناکراره و چې څنگه د خپل رښتيني محسن او نعمت ورکوونکي شکر ادا کړي، رښتيني منعم هم دا احسان وکړ، چې د عقل د هدايت او لارښوونې لپاره يې انبيای کرامو عليهم السلام ته شريعت ورکړ او راويې لېږل، تر څو عقل ته د رښتيني منعم د شکر ويستلو طريقه ور وښيي او په زړه، اعتقاد، بدن او عمل باندې د هغه تعالی د تعظيم کولو په هکله يې خبر کړي. په دې توگه، څوک چې د الله تعالی له لوري د نازل شوي شريعت سره برابر د هغه شکر او تعظيم پر ځای کړي، نو هغه ته به د اللّٰه ﷻ له لوري د رضايت او خوشحالی پارچه نصيب شي او که هر څه يې په خپل سر وو، نو له هغه زېري نه به محروم شي. ځکه د پاچا او حکومت له لوري هغه وخت يو چا ته د رضايت پارچه ورکول کېږي، چې هغه کس د حکومت له خوا جوړو شويو قوانينو ته ژمن وي، اطاعت يې وکړي او د حکومت د قوانينو له په پام کې نيولو څخه پرته

په خپله خوښه یو کـار کولـو تـه د حکومـت فرمـانبرداري ویـل ډېـره لویـه غلطـي او ناپوهي ده.

کفر است در این مذهب خودبینی و خودرایی

خو خپل سریو ته بیا بې ځایه توجېهات او تاویلات پیدا کول غلطي او ناپوهي نه، بلکې جرم او گناه بلل کېږي. که چېرې یو ناپوه او بې خبره کس د حکومت قوانینو ته د ژمنتیا او فرمانبردارۍ مدعي وي او بیا خپلو خپل سریو او د قانون خلاف کارونو ته عجیب و غریـب تاویلونـه کـوي، نـو د حکومـت اسـتازی بـه ووایـي چې دا کـس د حکومت له قوانینو پرته د خپل ځان له‌خوا په جوړو شویو قوانینو پسې روان دی او په چالاکۍ سره غواړي چې د خپلو فاسدو گمانونـو او خیـالاتو سـیوری د حکومـت پـه قوانینو باندې واچوي، خو د حکومت قوانین له دغو خپل سریو توجېهاتو او تاویلاتو څخه پاک دي.

همداراز، د اسلام علماء د الهي شریعت وکـیلان دي او د خـدای تعـالی د قوانینـو مطابق د اسلام مبارک دین مطلب او مقصد وړاندې کوي او دا خبره پـه ډاگـه کـوي، چې د الهي دستور مطابق هر هغه څوک چې هڅه کوي کتاب اللّٰه او سنت لـه خپـل فاسدو تاویلاتو او بې‌کاره توجېهـاتو سره برابـر وښـیي، د هغـه دې هڅـې او همـدغو فاسدو توجېهاتو او تاویلاتو ته د شریعت په اصطلاح کې الحاد او زندقه ویل کېږي.

لنډه دا چې د رښتیني محسن او منعم شکر ادا کول او د هغه تعظیم کول پـه هغـې طریقې سره معتبر او د منلو وړ دي، چې د الهي شریعت مطابق وي او کوم عبادت او تعظیم چې په خپل سر او د شریعت له قواعدو سره په ټکر کې وي، هغه د اعتبـار وړ نه دي.

لکه څنگه چې د حکومت له قوانینو څخه هغه مفهوم او مطلب اخیسـتل د اعتبـار وړ دي، چـې د حکومـت وزیـران او نـور لوړپـوړي چـارواکي پـرې پـوه شـوی او د هماغـې پـوهې پـر اسـاس هـر وخـت پرېکـړې کـوي. همـداراز، د شریعـت لـه اصـولو او فروعـو څخـه هغـه مفهـوم او مطلـب اخیسـتل معتبـر دي، چـې د صـحابه کرامـو رضي الله عنهم لـه زمـانې رانیـولې تـر اوسـه پـورې د امـت نېکـان، علـماء او صـالحین پرې پوه شوي دي او په اسلامي محاکمو کې د هماغو پر اسـاس پرېکـړې کـوي. لـه دې څخه بلې خوا هېڅ کومه نوې معنا، مطلب او مفهوم اخیستل د اعتبار وړ نه‌دي او

که چېرې د صحابه کرامو ﷡، تابعینو او نورو حق‌پالو او رباني علماوو له اسلامه ښودل شوی مطلب غلط کېدای شي، نو د دغو آزاد خیالو او تیاره فکرو لیکوالانو او پوهانو، چې په عربیې ژبه هم سم نه پوهېږي، د هغوی له‌خوا له اسلامه ښودل شوی مطلب او مفهوم څنګه غلط کېدای نه‌شي؟

اې مسلمانانو! اسلام هماغه یو اسلام دی، چې پر محمد رسول الله ﷺ باندې نازل شوی دی: **﴿إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ﴾**[1] او صحیح حقیقت یې هماغه دی، چې د حضور ﷺ درانه یاران او صحابه کرام ﷡ پرې پوه شوي دي، له هغې پوهې پرته نور ټول غلط او بې‌کاره دي او څوک چې یو اسلام دوه اسلامه او یو قرآن دوه قرآنه بولي، په حقیقت کې یې سترګې کږې دي او په دې وجه ورته دوه ښکارېږي.

د عقل غوښتنه دا ده، چې د شریعت د قانون مطابق د رښتیني منعم تعظیم پر ځای شي او شریعت دوه برخې لري: یوه برخه کې یې عقیدوي مسایل دي او بله برخه یې عملي مسایل دي. عقیده د دین اصل دی او عمل یې فرعه دی، له اعتقاد پرته د آخرت له عذاب څخه خلاصون ناشونی دی او څوک چې اعتقاد ولري، خو عمل ونه لري نو د هغه معامله د الله ﷻ په مشیت پورې تړاو لري، چې ښښي یې او که د ګناهونو په اندازه سزا ورکوي. خو په ټوله کې د دوزخ له اوره د ژغورلو امېد ورته شته دی ځکه د دوزخ دایمي عذاب د هغه چا لپاره ځانګړی شوی، چې د دین د ضروریاتو څخه منکر شي او له هماغه انکار سره له دنیا سترګې پټې کړي. ځکه د دین له ضروریاتو څخه انکار العیاذ بالله کفر دی او بې‌عمله انسان که څه هم دوزخ ته ننویستل کېږي، خو د صحیح عقیدې لرلو له کبله به په تلپاتې او همېشني عذاب کې نه وي.

إنَّ العَقَائِدَ كُلَّهَا أُسُّ لإِسْلامِ الفَتَى
إنْ ضَاعَ أَمْرٌ واحِدٌ مِن بَيْنِهِنَّ فَقَدْ غَوَى

ژباړه: د یوه مسلمان د مسلمانۍ د ماڼۍ بنسټ اسلامي عقیده ده، نو که په هغه بنسټ کې یوه عقیده هم خرابه یا فاسده شي نو د مسلمانۍ ټوله ماڼۍ خرابېږي.

خشت اول گر نهد معمار کج
تا ثریا می‌رود دیوار کج

---

[1]. [د آل عمران سورت: ۱۹ آیت]

مخکې مو وویل چې اعتقادي مسایل د دین له اصولو او ضروریاتو څخه دي. نو له دې امله په مختصر ډول د ناجیه فرقې عقیده بیانوو، چې د اهل سنت والجماعت ډله ده، عملي مسایل چې فروعات دي او تفصیل یې هم اوږد دی، د فقهې کتابونو ته یې حواله کوو او دلته یوازې د اعتقاداتو پر بیان باندې اکتفا کوو.

د دې لیکنې د لیکلو په وخت کې د حضرت امام رباني مجدد الف ثاني ﷦ هغه درې مکتوبونه، چې د اسلامي عقیدې په اړه د ده په عرفاني قلم باندې لیکل شوي دي، زما مخې ته پراته دي. که څه هم د دې حقیر و فقیر دا لیکنه د امام رباني ﷦ له مکتوب څخه څو ځلې ډېره او مفصله ده، خو د دې لیکنې بنسټ د حضرت امام رباني ﷀ د هماغو درېیو مکتوبونو له لارښوونو څخه اخیستل شوي دي او پاتې نور تعمیر یې د نورو متکلمینو او د عقیدې د علماوو له مشهورو ویناوو څخه اخیستل شوي دي. «**رحْمَةُ اللَّهِ عَلَيْهِم أَجْمَعِينَ وَ عَلَيْنَا مَعَهُم يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.**»

اللّه تعالی دې د دغو مشرانو پر پاکو ارواحګانو باندې خپل بې‌شمېره رحمتونه و وروي او د اسلام او مسلمانانو له لورې دې دوی ته د خیر بدله ورکړي، چې د اسلام دین یې په ښه او بشپړ ډول تر موږ پورې را ورساوه او د کتاب اللَه او سنتو پر هغه مفهوم او مطلب باندې چې صحابه کرامو ﷠ او تابعینو زده کړی و، په ښه ډول خبر او پوه کړو. آمین ثُمَّ آمین.

اوس په سلګونو زرو عاجزیو او زاریو سره له اللَه ﷻ څخه غوښتنه کوم، چې: اې لویه خدایه! ته په خپل رحمت او عنایت سره ما ته، زما مور و پلار، بچیانو او نورو خپلوانو ته د نبي کریم ﷺ او د هغه د صحابه کرامو ﷠ او تابعینو په لاره باندې د ژوند تېرولو استقامت را په برخه او پر همدې لارې باندې مو خاتمه وکړې، په همدې مو له قبر څخه راپورته کړې، په همدې لاره باندې مو حشر کړې، د دنیا او آخرت له رسوايي، ذلت، پښېماني او شرمندګی څخه مو وساتې او زما دا لیکنه د مسلمانانو د لارښوونې لپاره یوه ذریعه، زما د آخرت لپاره یوه ذخیره او د ایمان د ساتلو لپاره یوه وسیله وګرځوې. آمین

يا ربَّ العَالمِيْن فاطِرَ السَّمَوَاتِ والأرْضِ أنْتَ وَلِيِّ فِيْ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ تَوَفَّنِيْ مُسْلِمًا وَ أَلْحِقْنِيْ بِالصَّالِحِيْنَ، أللَّهُمَّ يا ربِّ بِجَاهَ نَبِيِّكَ المُصْطَفَى وَ رسُولِكَ المُرتَضَى طَهِّرْ قُلُوبَنَا مِنْ كُلِّ وَصْفٍ يُبَاعِدُنا عَن مُشَاهَدَتِكَ وَ مَحَبَّتِكَ وَ أمِتْنَا عَلَى السُّنَّة

وَالجَمَاعَةِ وَالشَّوْقِ إلى لِقَائِکَ يا ذالجَلالِ وَالإكْرَام. آمِين آمِين آمِين يا ربَّ العَالَمِين وَ يا أرحَمَ الرَّاحِمِين.